# د باچاخان د فکر او امن نړۍ

اسرار د طورو

نه رڼا شته نه سکون. د بدن نیستي ده. لکه د اوتر بوتر بې عنوانه بې ترتیبه لګیا یم. یاران چېږم.

باچاخان وائي چې ,,یوه ورځې زهٔ د بیت المقدس نه بهر سیل ته اووتم یو ځوان عرب راسره ملګرے شو. ما له لږه لږه عربي راتله هغه سره مې خبرې شروع کړې. ور ته مې ووې چې بیت المقدس خو ډېره ترقي کړې ده نوي نوي سړکونه پکښې پیرنګیانو جوړ کړل لوئې آبادۍ ئې پکښې وکړې. هغه ما ته وکتل خه ئې وئیل لېکن چپ شو او ما ته ئې هیڅ جواب رانه کړو،، (زما ژوند او جدوجهد ص ۳۲۸) د هندوستاني مسلمان نه عام عربیان ګیله من وو. د پیرنګي مخبران او زرخرید ئې ګڼل.



باچاخان په ۱۹۲۶ کښې د حج په سفر روان شوے ؤ. خور ورسره هم وه. اوښې، د هغه د ترهٔ ځوي عطاء الله خان او خپله ښځه ورسره هم وه. کراچۍ کښې دوي د عبدالله هارون صاحب د بې بې په بلنه هغوي کره ډېره شو او بیا د اوبو په جهاز کښې عدن ته بیا جدې ته لاړل. او بیا مکې ته لاړل. د حج مراسم ئې په ښه طریقه ترسره کړل. په دغه وختونو کښې سعودي حکومت د ,,مؤتمر عالم اسلام،، په نامه یوه جرګه جوړه کړه د جرګې اجلاس له د هندوستان نه علي برادران، مولانا ظفرعلي خان او مولانا اسماعیل غزنوي راوغوښتل. په دغه جرګه کښې عربو د هندوستان د غړو نه ګیله وکړه چې د انګریزانو په فوځ کښې ستاسو د وطن خلقو زمونږ په مقدسو مقاماتو ډزې وکړې. ظاهره ده دغه مشران که هر څو قابل عالمان وو خو د غلام وطن مجبورو ژوبل کړي وو. تجاویز ئې قبول نه شو. جرګه ناکام شوه.

یورپ لګیا ؤ علمي ترقي ئې کوله په ۱۸۲۹ء کښې اولنۍ دخاني ګاډۍ د بحر او قیانوس په عبور کولو کامیاب شو. تر ۱۸۹۰ء د بجلۍ رڼا او د بجلۍ په زور ګڼ کارونه ممکن

شـو. مونږ نن هم د بجلۍ د رڼا نه پوره پوره فیض نـه مومو. شلمه پیړۍ چې شروع کېده نو د بړاس او بـخـاراتو په برکت موټري مشینونه او یو جهان آلات مېـنځ تــه راغـلـي وو. د جنګ دپـاره تبـاه کــونــکــي آلات د یــورپ پـــه لاس کښې وو ,,نیتشے،، د ,,بـقـائے اصـلـح،، فلسفـه دنیا تـه وړانـدې کړې وه. د دې جــرمــن نــژاد د فلسفي دا نـظـریه مغربي طاقتونو اومنله او د علم او هنر په زور ناتوان بې علمه بې هنره قامونه اومړل.

هـندوستان غلام شو. پښتانه تس نس وو اول مـغـلـو وهـل. بیـا پیرنګي ریز مریز او غلام کړل. نـو پـه خـانـه کعبه ئې د بادار دپاره مجبوراً ډزې کړې وې. د افـغـانستان ملا هم پیرنګي ما ته کړې وه. مادي قوة او د ,,بـقـائے اصلح،، نظریه د مـذهب او اخلاقو نه قومونه بېخي محروم کړي او غـلامـي د وګړو نه د عزت نفس او حمیت احساس ختـم کـړے. د هــنـدوسـتــان په مدرسو او مکتبونو کښې د جدید ترقي یافته علومو او فنونو په ځائې د یونان زاړۀ او پاتې راغلي فنون لوستي شو. او د بـده مـرغه د اسلام د عاشقانو دا عقیده جوړه شوه چې ګـڼې د یونان فلسفه،طب او منطق اسلام دے. نو د انګریزي علمي پرمختګ نه بې برخې شو.

پـه دې دور کښې غـازي امـان الله د خپل پلار امیر حبیب الله خان د قتل (۱۹۱۹ء) نه پس واکـمـن شـو او د پیـرنګي د اثر نه ئې د خپل وطن افـغـانسـتـان د آزادولـو هڅه کوله پیرنګے ئې په زور مـجبور کړو او د افغانستان استقلال ئې پرې ومـنـلو. په ۱۹۲۷ء کښې د یورپ په دوره لاړ چې راغـے نـو پـه مـلـک ئې اصلاحات جاري کړل خو د پیرنګیـانو او د وطن دننه ملیانو او پیرانو او ځینې نـورو طـاقـتـونـو بغاوت شروع کړو. بچه سقه ئې بـاچـا کړو او غـازي امان الله خان اټلي ته لاړو بیا مـحـمد نادرخان باچا شو آن چې په ۱۹۳۲ء کښې هغه هم قتل شو.

بـاچاخان په ۱۹۲۲ء کښې د حـج نه پس د خپـلـې مېـرمـن سـره طائف ته لاړ. باچاخان ته په طـائف کښې د نبـي عـلـیـه السلام د عزم،د معاف کولو، د صبر او د زغم کردار یادېدو. خلقو په کاڼو ویشتـو او هـغـويٍّ ور تــه دعـا کولـه. دغـه وخت باچاخان د ۳۲ کالو مضبوط ځوان ؤ. هغوي د قام د تـعـلـیـم،اصـلاح او آزادۍ د تحریک دپـاره دغـه نبـوي اخـلاق پـه ځان کښې او په قام کښې را پېدا کول غوښتل.

بـاچـاخان د خپل قوم ازغي ازغي ژوند ته کتل هغه په شدت سره محسوسوله چې د پیرنګي پـه غـلامۍ کښې پښتانه د سرو سرو ټکو په ناتار بـاران کښې نـاسـت دي نـو هـغـه د قام د ستونزو د عـلاج په فکر کښې شو د باچاخان تعلق د عالمانو سـره ؤ. فـضـل محمود مخفي صاحب له انګریزۍ پښتـو عـربـي او فارسي څلور واړه ژبې ورتلې او سیاسي پوهه ئې لرله. انقلابي شاعر ؤ. د قام ولۍ شاعري ئې کوله. د ترنګزو حاجي صاحب بزرګ ؤ د عـمـل انسان ؤ. مصلح وه د باچاخان هغوي سره تـعـلـق ؤ. بـاچـاخان د پښتنو د اصلاح په خاطر د

مـولـوي عبـدالعزيز په تعاون په ۱۹۱۰ء کښې په اتـمـانـزو کښې يوه مدرسه جوړه کړه او بيا ئې په عـلاقو کښې د مدرسو جوړولو کار شروع کړو. دا مـدرسې د ځينې مليانو نه وې خوښې خو باچاخان خپـل کـار جاري وساتلو. د ترنګزو حاجي صاحب ئې د مـدرسـو سـرپـرسـت کړو نـو کـامـيـاب شو. بـاچـاخـان وائي د حاجي صاحب په وجه مونږ ته په دې کـار کښې ډېـره کـامـيـابي حاصله شوه. (زما ژوند او جدوجهد ص ۲۹)

بـاچـاخـان د ګـدرد دارالـعلوم د مدرس او مهتـمـم مـولـوي تـاج مـحمد صاحب او د مولوي فـضـل ربي صاحب په واسطه د ديوبند دارالعلوم د مشـر حضرت مولانا محمود الحسن صاحب او ميا عـزيـز ګـل صـاحب سره ملاقاتونه کول. د مولانا عبيـدالـلـه سـنـدهـي او مولوي محمد ميا وغېره عـالمانو سره ملاقاتونو د پيرنګيانو د حکومت او ظلم خلاف فکر ته وده ورکوله. انګريزانو به د دې عــالـمــانـو د مخبري دپـاره سړي مقرر کړي وو. شـاګـران بـه ئې وو خو اصل به ئې د مخبر وو. په دغـه ورځـو کښې مولوي سيف الرحمان د دوواوې (هشـت نګـر) د فتـح پور د مدرسې صدر مدرس ؤ. د دې خـلـقو دوستانې باچاخان کښې د قامولۍ جـذبـه تېـزه کړه. د مـولانـا ابوالکلام الهلال او د مـولانا ظفرعلي خان زميندار اخبار به ئې لوستل خو اسلامي او سياسي معلومات به ئې حاصلول او د آزادۍ جـذبـه ئې پـه جـوش کښې وه. انګريزي اخبـار ,,سـول ايـنډ مـلـټـري ګـزټ،، بـه ئې هم لـوسـتـلـو. ديني کتابونه او نور ادبي او معلوماتي کتـابـونـه بـه ئې مطالعه کول. ذهن او سينه ئې د علم په رڼا روښانه وو.

باچاخان د پيرنګي د غلامۍ نه خپل قام او مـلـک آزادول غـوښتل. نو د قام د اصلاح جهاد ئې کـولـو. پـه عـوامو کښې د بېدارۍ جذبه پېدا کول ګـران کـار ؤ. د تـرکـو خـلافت خو په ۱۹۲۴ کښې مـصـطـفی کمال پاشا د انګريزانو د خواهش مطابق ختـم کـړے ؤ. دلتـه پـه هـنـدوستان کښې تحريک خـلافـت سوړ شو. مولانا محمد علي جوهر قېد شو نور ډېر خلق قېد شو د ,,مـطالعه پاکستان،، مولف مقبول رحمت د خپل کتاب Pakistan study په مخ ۱۰۵ ليکي:

on 3rd March 1944 Mustafa kamal pasha alolished the institution of caliphate in Turkey ولې دې تحريک د بلا تاوانونو او نقصانونو باوجود په مسلمانانو کښې د آزادۍ جوش زيات کړو. د هندوستان مسلمانان د تـرکو خلاف د پيرنګي فوځ کښې جنګېدل او چې خـلافـت مات شو نو بيا ئې تحريک کولو. د غلام قوم دغه فکر او عمل وي.

د بـاچـاخـان او د هغه د ملګرو تعليمي او اصلاحي تحريک ته پيرنګيانو په بد نظر کتل. د پيـرنـګـي زيـر اثر او مراغت يافته خانانو،مليانو، پيـرانـو او نـوابـانـو بـه هـم د تعليمي او اصلاهي جـدوجهد مخ نيـوے کولو. په طورو کښې د مولانا مـحمد عنايت الله او مشرانو عالمانو او پښتنو په

مرسته ,,جمعية الابرار،، مدرسه لګیا وه عالمان ئې پېدا کول. د افغانستان خوږیاڼو مولوي محمد یونس مرحوم هم دلته سبق وئیلے ؤ. دا مدرسه د وېش نه وړاندې د آموخیلو په جماعت کښې وه. بیا د یو بااثر په سازش خاموش شوه. کله چې افغانان دلته راغلل نو مولوي محمد یونس صاحب طورو ته راغلے ؤ د آموخیلو جماعت ته ورسره زۀ لاړم نو وې ژړل چې دا جماعت خو اوس غلے دے. ولې باچاخان د قېد و بند، وهلو ځپلو، او هر قسم تکلیفونو باوجود د علم او اصلاح موخه تر نظر لاندې ساتله. باچاخان د قېد و بند او د پیرنګي د استبداد مقابلې ته د خدائي خدمتګار په نوم یو تنظیم جوړ کړے ؤ. دا د ۱۰۲۹ خبره ده. دا اصلاحي تنظیم ؤ خو پیرنګي باچاخان او د هغه ملګري د جبر بند کار کړل نو هغوي ئې سیاست ته راښکل. پښتانه د باچاخان په تحریک بېداربېدل او د امن او عدم تشدد په لار ئې قومي سیاسي او معاشي آزادي حاصلوله. په هندوستان کښې د مسلمانانو او هندوانو په شریک جدوجهد د غلامۍ زنځیرونه شلېدل خو پیرنګي سامراج د دې لوئې ملک په عوامو کښې د جهالت توره شپه جوړه کړې وه.

آزادي قومونو اوګټله خو دوه لوئې قومونه د یو بل دښمنان شو نن هم د دښمنۍ په حکمت عملۍ عمل دے. د سکولونو،کالجونو په نصابي کتابونو او په مېډیا د نفرت او دښمنۍ عقیده عوامو ته ورکولے شي. هره ورځ د جنګ خبرې کېږي. فوځ په دغه اساس تربیه کېږي. ګراني،معاشي،بدحالي او دهشت ګردي وده کوي. امن نشته د ترقۍ لارو کښې بلاګانې دي. اسلام بدنامېږي. او د باچاخان قوم د عالمي سامراج او د خپل وطن د نومړو د ظلم نخښه ده. بجلي نشته. رڼا نشته. فکر مفلوم دے. مور ځوي ته بدنېته ده. ځوي د پلار نه باغي دے. په یو کلي کښې شلګونه ډلې دي.

باچاخان په فلسطین کښې په عربي ځوان طنز کولو چې پیرنګي سرکونه جوړ کړي دي نوې نوې آبادۍ کېږي. نن خپل وطن دے. پیرنګے نشته. نوي نوي سړکونه جوړېږي. نوې نوې آبادۍ کېږي. خو د ملک عوام په مصیبت کښې دے د دې ظلم علاج به څوک کوي. سیاسي لیډران که فوج؟ انقلاب به څنګه راځي؟ د علم رڼا د هنر زور د اتفاق او اتحاد طاقت، د دین احترام، دعدل نظام،د امن،ترقۍ او خوشحالۍ ضمانت ورکوي. مادي ترقي د بد اخلاقه قوم نه فرعون، نمرود،قارون،چنګېز،هلاکو،شمر او یزید جوړ کړے. وژل،سېزل او لوټ تالان نه تهذیب دے نه ترقي. دا خو د ځناورو عمل دے.

باچاخان په ۱۹۲۹ء کښې په یو تقریر کښې وئیلي وو چې سېلابونه همېشه اوډۀ قامونه وړي. نن د فساد او انسان د وینو سېلاب کښې مونږ لاهو یو. ملک مو خپل دے خو د بل غلامان یو. د دې غلامۍ نه به ځان په همت خلاصوو. د باچاخان ارمان د قام آزادي او آبادي وه. نو دا ارمان به تر لاسه کوو. ګني نو تاسو به چېږم. بې ترتیبه. بې عنوانه به لګیایم. د رڼا خبرې به کوم.